# مسیر

ورځپاڼه


نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۹ د مرغومي ۲۳مه | د ۲۰۲۱ د جنوري ۱۲مه | ۶۶۲مه گڼه


# تر غبرگونونو او نیوکو وروسته؛

## ولسمشر غني په نیمروز کې د ملکي وگړو پر مرگ ژوبله خواشیني څرگنده کړه



۳

په ښارونو کې بریدونه، لاملونه، تورونه او حلاره

۲ مخ

په افغانستان کې د پاکستان لاسوهنې او د افغانانو حالت

۲ مخ

د کرونا واکسین کول څومره اړین دي؟

۳ مخ

## څېره

۴ مخ

### الفریده یلینک



یلینک په ادبي مسایلو کې نوې ژبه کارولې ده، کلیشه يي مسایل یې په خورا نوې بڼه وړاندې کړي دي او د نارینه‌وو او ښځینه‌وو تر منځ یې جنجالي موضوعات په ښه ډول څېړلي دي.

## کرنې وزارت: روان کال په هېواد کې د کرنیزو محصولاتو لپاره نږدې ۱۱ زره ودانۍ جوړې شوې



کرنې او مالدارۍ وزارت وایي، چې د هېواد په کچه د کرنیزو محصولاتو د مدیریت پروگرام له لارې د روان لمریز کال له پیله ۱۰ زره او ۸۲۸ ودانۍ جوړې شوې دي.
د دغه وزارت د اوبو لگولو او طبیعي سرچینو مرستیال حشمت‌الله غفوري وایي چې په دغه ودانیو کې ممیز خونې، د پیازو او کچالو زېرمتونونه او دغه‌راز د مڼو او انارو ساتنې لپار صفر درجې سړې خونې شاملې دي.
نوموړی زیاتوي، چې د دغو پروژو په پلي کېدو سره ۸۷ زره کسانو ته لنډمهالې دندې او ۲۹ زره کسانو ته د دایمي دندو زمینه برابره شوې ده. د هغه په خبره، د دغو پروژو د ودانیزو چارو په بشپړېدو سره، څه باندې ۱۶۵ زره مټریک ټنه کرنیز محصولات چې پکې مڼې، انگور، انار، پیاز، کچالو او یو شمېر نور محصولات شامل دي، خوندي شوي دي. کرنې وزارت وایي، چې دا پروژې د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې پلې شوې دي.

## ارگ: کابینې د ۱۴۰۰ مالي کال ملي بودجې د دویمې مسودې طرحه تصویب کړه

کابینې د ۱۴۰۰ مالي کال ملي بودجې د دویمې مسودې طرحه چې له (۴۵۲،۶۴۱) میلیارده افغانیو څخه یې (۴۷۳،۰۴۰) میلیارده افغانیو ته تغییر کړی، تصویب کړه. د ارگ په خبرپاڼه کې راغلي چې د ولسمشر غني په مشرۍ د کابینې غونډه، د کابینې د غړو او والیانو په گډون د ویډیو کنفرانس له لارې په ارگ کې جوړې شوې وه. سرچینه زیاتوي، د مالیې وزیر د ۱۴۰۰ مالي کال بودجې دویمه مسوده غونډې ته وړاندې کړه، ویې ویل، د ۱۳۹۹ مالي کال په لړ کې د اختیاري مرستو تمویلوونکو ټول شرایط بشپړ شوي، په عادي بودجه کې ۱۲ سلنه سپما شوې او همدارنگه انکشافي بودجه د کرونا د ستونزو باوجود ۸۶ سلنه مصرف شوې ده. همداراز د مالیې وزارت معین کابینې ته د ۱۴۰۰ مالي کال بودجې دویمې مسودې وړاندې کولو موخه د ځینو اړتیاوو موندل په گوته کړل چې مخکې یې وړاندوینه نه وه شوې.

نوموړي زیاته کړه، د دغو اړتیاوو په پام کې نیولو سره په بودجه کې زیاتوالی او کموالی راغلی چې له امله یې د ۱۴۰۰ مالي کال ملي بودجه کې هم زیاتوالی او تغییر راغلی او دا کار د کابینې بیاځلې منظورۍ ایجابوي.
هغه وویل، په دې مسوده کې د ۱۴۰۰ مالي کالي ملي بودجې سقف د (۲۰،۴۰۰) میلیارد پیشنهادي افغانیو په زیاتولو سره له (۴۵۲،۶۴۱) میلیارد افغانیو څخه (۴۷۳،۰۴۰) میلیارد افغانیو ته تغییر کړی چې له هغې جملې (۳۱۱،۱۹۹) میلیارد افغانۍ عادي بودجه او (۱۶۱،۸۴۲) میلیارد افغانۍ انکشافي بودجه ده او د بودجې کسر له قرضې او ریزرفي وجوه تمویلېږي. کابینې له بحث او غور وروسته د ۱۴۰۰ مالي کالي ملي بودجې مسودې طرحه تصویب او مالیې وزارت یې موظف کړ چې د ملي شورا له لارې د هغه د پړاوونو پر بشپړولو عاجل اقدام وکړي.

## سرچینې: د مذاکراتي پلاوو ځینې غړي لا هم دوحې ته نه دي تللي




۵ مخ

## وزارت صحت عامه: شمار مجموعی جان باختگان ویروس کرونا در کشور، به ۲۳۰۱ نفر رسیده است



وزارت صحت عامه، از ثبت ٤٦ واقعهٔ جدید بیماری کرونا در یک شبانه روز گذشته در کشور خبر داده و می گوید که این تعداد واقعه، در ۱۳ ولایت کشور به ثبت رسیده است.
وزارت صحت عامه می‌گوید که در یک شبانه روز گذشته، آزمایش کرونای ۱۸۸٦ تن انجام شده، که نتیجهٔ آزمایش ٤٦ تن شان مثبت می‌باشد.
منبع افزوده است که با ثبت این آمار، تعداد مبتلایان به این ویروس در افغانستان، تا کنون به ٥٣٥٨٤ تن افزایش یافته است. در خبرنامهٔ این وزارت آمده است که ۱۱ تن در کابل، ۸-۸ در هرات و تخار، ۳-۳ در بدخشان و بادغیس، ۲-۲ در بلخ، غزنی، لوگر، خوست و پکتیکا، ۱-۱ در پکتیا، دایکندی و میدان وردک، به ویروس کرونا مبتلا شده اند.
براساس معلومات خبرنامه، در یک شبانه روز گذشته، ۱۸۹ فرد مبتلا به ویروس کرونا، دوباره صحت یاب شده و شمار مجموعی بهبود یافتههای این بیماری، به ٤٤١٣٧ تن می‌رسد.
همچنان وزارت صحت گفته است که در ٢٤ ساعت گذشته، ۱۳ تن به اثر ابتلا به (کوید- ۱۹) فوت کرده و از آغاز شیوع ویروس کرونا تاکنون در افغانستان، شمار مجموعی جان باختگان از اثر این بیماری، به ۲۳۰۱ نفر رسیده است.
همچنان، وزارت صحت عامه، درپی ثبت واقعات ویروس «جهش یافتهٔ کرونا» در برخی کشورها، از مردم می‌خواهد تا کمتر سفر نمایند و درصورت مشاهده اعراض وعلایم، خود را قرنطین کنند.

## سرلیکنه

### په ښارونو کې بریدونه، لاملونه، تورونه او حللاره

په کابل او ځینو نورو ښارونو کې هدفي وژنې لا هم گونگه چاره ده. حکومت وايي، بریدونه طالبان کوي، خو طالبان بیا بیا په دغو بریدونو کې لاس لرل ردوي. حکومت وايي چې طالبان له دې امله دا بریدونه کوي، چې پر حکومت د خلکو باور کم کړي، خو پړه یې ځکه نه اخلي چې له امریکا سره یې هوکړه کړې چې دا ډول کړنې به نه کوي. حکومت د ځینو بریدگرو ویډیوگانې هم خپرې کړې چې اقرار کوي، طالبان دي، خو طالبان بیا وايي چې دا ویډیوگانې جعلي دي او یا هم اقرار په زور اخیستل شوی دی. له همدې کبله لا هم خلک نه پوهېږي چې دا بریدونه څوک او ولې کوي.

دا بریدونه ځکه مبهم دي چې هېڅوک پکې خوندي نه دي. په دې بریدونو کې حکومتي کسان وژل کېږي، د حکومت او طالبانو دواړو منتقدین پکې وژل کېږي، مدني او سیاسي فعالین هم د دغو بریدونو قرباني دي او ژورنالېستان هم په پرله پسې ډول تر بریدونو لاندې راځي. اوس که دا بریدونه طالبان کوي، نو ولې پکې هر ډول خلک او آن د حکومت سیاسي مخالفین هم وژني!؟ که خبره له حکومتي اړخه وي، نو بیا ولې حکومتي کسان وژل کېږي!؟ تر دې ور هاخوا داسې کسان هم پکې وژل کېږي چې دواړو اړخونو ته یې هېڅ زیان نه وي رسېدلی او آن سړی نه پوهېږي چې بریدگرو به د دغو کسانو په وژلو سره څه تر لاسه کړي وي.

اوس یوه وېره خوره ده، هر څوک وېرېږي، حکومتي او نا حکومتي او ناپېیلي کسان ټول په وېره کې ژوند کوي او هېڅوک د خوندیتوب احساس نه کوي. حکومت نږدې هره ورځ د بریدگرو د نیولو خبره کوي، خو بریدونه هغسې روان دي. که رښتیا هم بریدگر نیول کېږي او دومره ډېر نیول کېږي، نو بیا ولې بریدونه نه ودرېږي!؟ تر دې مهمه دا چې ولې د دغو بریدونو د څرنگوالي او د بریدگرو د هویت او کړنو په اړه پوره معلومات له خلکو سره نه شریک کېږي!؟

داسې ښکاري چې اوس به یو اړخ په دې بریدونو کې ښکېل نه وي، بلکې ډېر اړخونه په پکې دخیل وي. د ډېرو بریدونو موخه به هم یوازې د وېرې او وحشت ایجادول وي. ښايي هڅه روانه وي چې د سولې پروسه تخریب شي او په دغو بریدونو سره وښیي چې یا خو طالبان پر خپلو ژمنو عمل نه کوي او یا هم نورې ډلې شته چې له طالبانو پرته به هم جگړې ته دوام ورکوي. له همدې امله د دې بریدونو لاملونه تر هغه ډېر پېچلي دي چې په اړه یې ویل کېږي.

که دواړه اړخونه رښتیا هم داسې اسناد او شواهد لري چې ښيي مقابل لوری په دغو بریدونو کې ښکېل دی، نو پکار ده چې له خلکو سره یې شریک کړي. یوازې لنډې او هغه هم د نامعلومو اشخاصو ویډیوگانې کفایت نه کوي، بلکې په دې اړه باید له رسنیو سره گډ کار وشي چې په تفصیل سره ټول جزیات او معلومات له خلکو سره شریک شي. آن دا هم یوه لاره ده چې له یوه ناپېیلي ټیم سره ټول اسناد او شواهد شریک شي، څو د افغانستان خلک پوه شي چې د دغو بریدونو تر شا څوک دي او څوک په دومره شدت سره د ملکي خلکو پر ضد جگړه مخ ته وړي.

# په افغانستان کې د پاکستان لاسوهنې او د افغانانو حالت

لیکنه: نورمدین بلخېل

دا یو حقیقت دی چې پاکستان د پیدایښت له وخته د افغانستان په قضایاوو کې ښکېل دی، کله چې افغانستان د پاکستان له جوړېدو وروسته په ملگرو ملتونو کې د هغه د غړیتوب مخالفت وکړ، نو پاکستان د افغانستان له قوي حکومت څخه په ډار کې شو، د افغانستان په داخلي چارو کې یې لاسوهنه پیل کړه چې افغانستان هم مجبوراً د پاکستان په مقابل کې مقابل لوری ونیو. دا چې پاکستان د افغانستان خاوره نیولې ده او په اوسمهال کې دا خاوره(پښتونستان) نږدې د ټول افغانستان معادل نفوس لري، نو افغانستان هم په اسانۍ له خپلې غوښتنې نه تیرېږي، نو د دې لپاره یې له هندوستان سره چې د پاکستان د هډ دښمن بلل کیږي، نږدې شو، دې کار بیا پاکستان په اندېښنه کې کړ او پاکستان لا افغانستان ته متوجه شو. په ۱۳۵۷ کال کې چې کله په افغانستان کې یو ملي نظام ړنگ شو، نو پاکستان ته یوه موقع په لاس ورغله، چې ښي اړخې ډلې چې غړي یې په پاکستان کې وو، د کیڼ اړخو کمونیستي گروپونو پر ضد وساتي چې نتیجه کې یې نږدې څوارلس کاله جنگ او د شوروي اتحاد د عسکرو د مداخلې باعث شول. په دې جنگ کې افغانانو ډېر تلفات ولیدل، خو شورویان ووتل او د هغوی گوډاگی نظام نسکور شو. په دغه وخت کې بیا هم په افغانستان کې د قدرت پر سر سخته جگړه ونښته چې د دغه جنگ ځینې خواوې د پاکستان دوستان او ځینې بیا یې دښمنان پاتې شول. په دې سره د پاکستان د کلونو کلونو خوبونه په اوبو لاهو شول، مگر بیا هم پاکستان لاس تر زنې کې نه ناست او په معادلو لارو چارو یې لاس پورې کړ. وروسته په کابل کې د پاکستان پر سفارت برید وشو، پاکستان د هغه وخت له افغان دولت سره اړیکې پرې کړې او د هیواد په جنوب کې له طالبانو سره په اړیکه کې شول. طالبانو انارشي گروپونه مات او تر ۲۰۰۱ کال پورې یې د افغانستان ۹۵ سلنه خاوره ونیوه، اسلامي امارت یې قایم او شرعي حدود یې نافذ کړل.

طالبان که څه هم د افغان جنگي گروپونو پر ضد یو حرکت وو، خو بیا هم د جگړې مخالفو خواوو د پاکستان پلویان بلل، دا ځکه چې طالبانو خپلې وسلې له پاکستان څخه تر لاسه کولې او زیات تجارت یې هم له پاکستان سره و. وروسته چې کله په ۲۰۰۱ کال کې د نیویارک او واشنگټن پېښې په کومو کې چې په زرگونو خلک ووژل شول د طالبانو د واک عمر ور لنډ کړ، ځکه چې د دغو پېښو مسوول اسامه بن لادن چې په افغانستان کې د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمه کې و، وگڼل شو او طالبانو یې امریکا ته له سپارلو ډډه وکړه.

طالبان د امریکا د بمباریو په نتیجه کې له واکه لرې شول، خو سوگند یې وکړ چې هیڅکله به ماتي ونه مني. د طالبانو ستر مشر ملا محمد عمر خپلو ټولو جنگیالیو ته وویل، چې زه اصیل افغانان پیژنم، هغوی هیڅکله د پردیو زور نه مني، موږ به تر اخیري سلگۍ پورې وجنگیږو او هیڅکله به د پردیو په واسطه را منځته شوی حاکمیت ونه منو. یو څو کاله وروسته د طالبانو خوځښتونه ډېر شول، امریکايي او افغان ځواکونو پر طالبانو عملیات پیل کړل، خو د طالبانو په ځینو کې پاتې راغلل. امریکايي او افغان چارواکو له پاکستان څخه د طالبانو په ځینو کې مرسته وغوښته، پاکستان هم په قبایلي سیمو کې د طالبانو پر ضد عملیات وکړل، مگر افغان طالبان لا پسې خطرناک شول او د هېواد په داخل کې یې امریکايي او افغاني اهداف تر اور لاندې ونیول. افغان چارواکو ویل له افغاني طالبانو سره د پاکستان پوځ او استخبارات مرسته کوي او یوازې هغه پاکستاني طالبان له منځه وړي چې د پاکستان د دولت پر ضد جنگ کوي.

د افغانستان او پاکستان تر منځ ناندرۍ زیاتې شوې، امریکا هم نه غوښتل چې د افغانستان لپاره پاکستان خپه کړي، نو ځکه یې د افغان چارواکو خبرو ته غوږ ونه نیو. سره له دې چې د طالبانو په رانسکورولو کې پاکستان د امریکا زیاته مرسته کړې وه، خو له طالبانو وروسته نظام او دولت یې د ځان لپاره په زیان وباله، ځکه یې له امریکا سره د طالبانو په ځپنه کې فریب وکړ او لکه څنگه چې امریکا او افغان دولت غوښتل طالبان وځپي، ویې نه ځپل. وروسته امریکایانو هم له پاکستان څخه گیلې پیل کړې، مگر پاکستان ته یې د طالبانو ختمول او ورکول، د کاڼي کرښه ونه کښله. طالبانو د هېواد په مختلفو برخو کې پر امریکايي او افغاني ځواکونو چریکي عملیات پیل کړل، چې دغو عملیاتو د امریکایانو او افغانانو د سر او مال زیانونه زیات کړل. افغان دولت په ځلونو ځلونو له پاکستان څخه غوښتنه وکړه چې طالبان له خپلې خاورې وباسي، خو پاکستان د افغان دولت او امریکایانو دغه خبرې بې بنسټه وبللې. طالبانو هره ورځ پر امریکايي عسکرو فشار ډېر کړ، امریکا دې ته تیاره شوه چې له طالبانو سره خبرو ته کښېني، په ۲۰۱۳ کال کې په قطر دوحه کې د طالبانو سیاسي دفتر جوړ شو او امریکایانو له طالبانو سره تماسونه پیل کړل، په ۲۰۱۸ کې یې زلمی خلیلزاد د افغان سولې لپاره د ځانگړي استازي په توگه وټاکه، امریکایانو له طالبانو سره د ۲۰۲۰ کال په فبرورۍ کې یو تړون لاسلیک کړ چې له مخې به یې ټول امریکايي پوځیان د ۲۰۲۱ کال د مې میاشتې تر نیمايي پورې له افغان خاورې وځي او اوس تقریباً د مې نیمايي ته پنځه میاشتې پاتې دي.

د افغان سولې په نامعلوم برخلیک کې د پاکستان له روله هم انکار نه شي کیدای، داسې ویل کیږي چې سولې ته د طالبانو په حاضرولو کې پاکستان له امریکا سره همکاري کړې چې دې خبرې ته افغان دولت په اندېښنه کې دی او داسې فکر کوي چې هسې نه د امریکا او پاکستان په گډ مصلحت کې پر دوی کوم څه وتپل شي. په هر صورت، د افغان دولت اندیښنه یوازې له پاکستانه هم نه ده، بلکې د طالبانو له سیاسي ځواکه هم په وېره کې دی، ځکه افغان دولت فکر کوي چې که چېرې طالبان وسله ولري او کابل ته راشي، نو اوسنی نظام به فلج کړي او د خپلې خوښې قوانین به پلي کړي چې دا به د ځینو ډلو او افرادو د نابودۍ په مانا وي، چې له اغېزې یې خپله محمد اشرف غني او د ده ټیم هم ترې مستثنا کیدای نه شي. محمد اشرف غني چې د ځینو تعلیم یافته افغانانو په منځ کې یې تر ټولو زیات لوړ تحصیلات کړي دي، خو په فکري لحاظ له طالبانو سره جوړ نه ښکاري، ځکه طالبان سوچه اسلامي سني ډله ده او د غني په اړه بیا ویل کیږي چې افغان ملتپالی او په ایډیالوژیک لحاظ د افغانستان پخوانیو کیڼ اړخو ته مایل دی، نو په دې توگه د طالب او غني په منځ کې ډېر واټن لیدل کیږي، ځکه به په راتلونکې کې طالبان اشرف غني او د ده ځینې فکري ملگري ونه غواړي.

افغان دولت چې د امریکا په مادي او معنوي ملاتړ تر دې وخته وچلېد، اوس یې د کمزورۍ نښې له ورایه معلومېږي. دا ځکه چې له یوې خوا امریکايي عسکر له افغان خاورې د وتو په درشل کې دي او بل خوا طالبانو خپلو حملو ته د هېواد په مختلفو برخو کې زور ورکړی، چې پکې هره ورځ د افغان دولت پوځي او ملکي مامورین وژل کیږي چې ور سره د افغان دولت د اوربند او د عامو خلکو د سولې غږونه اوچتیږي. طالبان هم د سولې ناړې وهي، خو د اوربند لپاره زړه نه ښه کوي. طالبان ممکن فکر کوي چې څو له دوی سره د سولې په یوه معتمد تړون توافق نه وي شوی، د اوربند کول ورته هیڅ مانا نه لري.

نویسنده: محمد احسان پنجشیری

# تعصب و تبعیض مایه بی اتفاقی و دشمنی

عدم آگاهی از هدایات دین مقدس اسلام یکی از عوامل تاثیر گزار و عمده در ترویج پدیده تعصب و تعصب گرایی است. بعضی حلقات خاص در مناطقی که سطح آگاهی مردم از دین اسلام پایین است، میکوشند که دیگر هم مردم را در تاریکی و جهالت نگهداشته و به نام سمت، قوم و زبان بر مردم حکومت کرده خود را نخبه و برگزیده ساخته و به هدفهای که در ذهن دارند، دست یابند. درحالیکه اگر به قرآن عظیم الشان و احادیث نبوی «ص» درباره پدیده تعصب مراجعه گردد، دیده میشود که اسلام این پدیده را چقدر مردود شمرده و آن را کاملاً مخالف شریعت اسلامی دانسته است. از این رو میتوان گفت که عدم آگاهی دقیق از اسلام درمملکت های اسلامی به شمول افغانستان از جمله عامل عمده شکل گیری پدیده تعصب به شمار می آید.

تعصب و تبعیض درمقابل دیگران سبب بی اتفاقی و دشمنی دربین بشریت، دربین امت اسلام و دربین هر مملکت اسلامی شده و امروز همه شاهد بدبختی ها درسطح جهانی و درسطح امت و درسطح هر کشور اسلامی هستیم. درحالیکه همه مسلمانان برادر همدیگر هستند. چنانچه خداوند متعال در آیه دهم سوره الحجرات میفرماید: ترجمه: «به حقیقت که همه مؤمنان باهم برادرند، بنابر این میان برادرانتان صلح و آشتی برقرار کنید، و تقوای الهی پیشه کنید، باشد که مشمول رحمت او شوید!»

تعصب و تبعیض ملت مسلمان ما را در وطن ما به چه نوع اشکال مختلف درمقابل یکدیگر بطور آگاهانه یا غیر آگاهانه بی اتفاق ساخته است و سبب چقدر دشمنی های بیجا شده است. ای کاش ملت مسلمان ما درک کنند که همه باهم برادر هستند و وحدت و برادری اسلامی خود را احیا کنند.

خداوند متعال درآیه (۱۰۵) سوره ال عمران میفرماید: ترجمه: «و مانند کسانی نباشید که پس از آنکه برایشان دلایل روشن آمد، پراگنده و گروه گروه شدند و اختلافات کردند، زیرا آنان را عذاب بزرگی است.»

برعلاوه خداوند متعال در آیت ۴۶ سوره انفال میفرماید که چنین پراگندگی ها سبب ضعف و سستی تان میشود. ترجمه: «و (فرمان) خدا و پیامبرش را اطاعت نمایید! و نزاع (وکشمکش) نکنید، تا سست نشوید و قدرت (وشوکت) شما از میان نرود! و صبر و استقامت کنید که خداوند با استقامت کنندگان است.»

یعنی مسلمان باید رضای پروردگار خویش را و موفقیت آخرت خود را همیش هدف قرار بدهد نه مدح و ستایش مردم را و نه منفعت های مؤقتی دنیا را. گروه ها و حلقات خاص و حتی ممالک همسایه برای تامین منافع شخصی خودشان تعصب گرایی درمیان اقوام و نژادهای مختلف را یکی از راه های رسیدن به اهداف شان می دانند. محرک های خارجی درنخست به گروه های مورد نظرشان به نوع اینکه درصدد دفاع از حقوق تلف شده شان دست همکاری داده و آرام آرام آنها را از قوم های دیگر ممالک شان دور ساخته و به ساده گی آنها را دستخوش هدف های خاص خودشان ساخته و منافع شخصی شان را تامین میکنند.

تمامی انسانها به دلیل دارا بودن قوه اندیشه و اختیار چه بسا درشناخت راه درست از نادرست، دچار خطا و اشتباه هم میشوند و این دنیا هم محل این امتحان و آزمون ها و کسب تجربه ها از این امتحانات است. پس خداوند به پیغمبرش می گوید: «به آنها دوباره موقع و میدان بده و درجلسات شورا و مشورت، باز هم از آنان نظرخواهی کن تا شخصیت شان با اعتبار ساخته شود.»

بی شک راه رشد هرجامعه‌ای درهمین باز کردن فضاها برای ورود همه علایق فکری است، که بتوانند ابراز وجود کنند و نقشی در سازندگی و رشد جامعه خود داشته باشند.

# د کرونا واکسین کول څومره اړین دي؟

ډاکټر محمد شريف پوپل (MBBS, M.S, PhD)

د واکسین په اړه څېړنو موندلې، چې تر اوسه په نړۍ کې واکسین یوازینی هغه څیز دی، چې د ډېرو انسانانو ژوند یې ژغورلی دی. واکسین په اصل کې د باکتریاوو او یا ویروسونو له کمزورو ډولونو څخه جوړ شوي مواد دي، چې په تطبیق سره یې د انسان د بدن دفاعي سیستم فعالیږي او په بدن کې د ناروغیو ضد انتي باډي جوړوي.

د لومړي ځل لپاره په ۱۷مه پېړۍ کې له واکسین څخه چینایانو کار واخیست او د اتلسمې پېړۍ په پای کې د انګرېز ساینسپوه او طبیب ایډوارډ جینیر په واسطه لوېدیځ ته ولېږدول شو.

اوسمهال په بېلابېلو طریقو واکسین جوړیږي او په نړۍ کې له شاوخوا ۲٦۰ ډوله واکسینو استفاده کیږي. دا چې ولې نن سبا د پخوا په پرتله واکسین ژر جوړیږي، یوه داسې پوښتنه ده، چې ښایي له ډېرو هېوادوالو سره وي.

دا چې واکسین څومره ګټې لري، دا یو ډېر لوی بحث دی، خو د نړیوال روغتیایي سازمان د احصایو مطابق، واکسین په نړۍ کې هر کال په اوسط ډول لس میلیون انسانان له مرګه ژغوري او د ډېرو انتي بیوټیک د استعمالولو مخه نیسي. دغه راز که چېرې پر واکسین یو ډالر مصرف کړو، نو په حقیقت کې به د ۴۴ ډالرو د سپما سبب شي او د دغو ټولو باوجود د واکسین له امله اوس په نړۍ کې د ماشومانو مړینه کمه شوې او په لویانو کې د عمر د اوږدوالي سبب شوی دی.

یو بل بحث چې ولې ځینې خلک واکسین نه خوښوي، ډېر علتونه لري. تر ټولو مهم علت یې د مذهبي او سیاسي کړیو لخوا په ناپوهۍ سره د داسې افواهاتو خپرول دي، چې ثابتولای یې هم نشي او پر ځای یې خپلو ټولنو ته نور درمل او لارې چارې هم ښودلای نشي.

اوس ولې ژر واکسین تیاریږي؟

د واکسینونو د ژر تیارېدو دوه سببونه دي. لومړی دا چې د جنیتیک علم ډېر پرمختګ کړی او د هر وایروس او باکټریا جنیتیکي جوړښت په اسانۍ سره تشخیص کیږي او دویم دا چې د پخوا په نسبت مصنوعي ځیرکتیا یا (Artificial Intelligence) هم د واکسین جوړول ډېر چټک کړي دي.

د واکسین په اړه ډېرې څېړنې شوې او لا هم روانې دي. د واکسین او درملو جوړولو کمپنیو کوښښ دا دی، چې په لنډ وخت کې داسې واکسینونه جوړ کړي، څو په یو ځای او یوه پیچکارۍ کې تطبیق شي. په دې کار سره به د وخت سپما شوې وي، ناروغان به هم له څو ځله ستنو وهلو نه په یو ځل فارغ او په یو ځل به د ډېرو ناروغیو مخه ونیول شي.

د کوویډ- ۱۹ واکسین او اوسنۍ نړۍ

اوسمهال د کوویډ- ۱۹ یا کرونا ویروس په خپرېدو سره نړۍ له ډېرو روغتیایي او اقتصادي ستونزو سره مخ ده، خو دا ځل د جنیټیک علم د پرمختګ او مصنوعي ځرکتیا په برکت د کرونا په مقابل کې شاوخوا ۱٦ ډوله واکسینونه په ډېرې چټکۍ سره جوړ شول، چې اووه ډوله یې عملاً اوس استعمالیږي او پاتې نور به په راتلونکو څو اونیو کې مارکیټ ته راووځي.

دا چې دا واکسینونه څومره د اعتبار وړ او څومره خوندي دي، دا په اصل کې د هر هیواد په طبي ټولنې، چې خپل معیارونه لري او د هغو مطابق د واکسین استعمال ته اجازه ورکوي، تړاو لري.

د کرونا اوسني واکسینونه چې تر اوسه یې چا ته کوم جدي خطر هم نه دی پیښ کړی، د دې وبا د کنټرول لپاره تر ټولو غوره وسیله ده. همدا دلیل دی چې ډېرو هېوادونو یې د تطبیق لپاره اجازه ورکړې ده.

د ځینو خلکو دا استدلال چې وایي په کرونا واکسین کې داسې مواد استعمال شوي، چې انسان ته په اوږدمهال کې روغتیایي زیانونه اړوي، د اوس لپاره ځکه بې اساسه او د اعتبار وړ نه دی، چې دا واکسینونه اوس جوړ شوي او د اوږدمهاله زیانونو اټکل یې بیخي له وړاندې ادعا ده. د اوس لپاره دا یوه خالي ادعا ده ،چې ساینسپوهان یې په هیڅ صورت نه تاییدوي.

ولې ډېر واکسینونه جوړ شول؟

اوس پر دې بحث کوو چې ولې په یو وخت کې د یو ویروس په مقابل کې دومره ډېر واکسینونه جوړ شول؟ علت یې دا دی چې اوس د نړۍ نفوس نږدې ۸ زره میلیونه دی او د دومره لوی نفوس لپاره د درملو جوړولو یوه کمپنۍ نه شي کولای په دومره زیات تعداد واکسین جوړ کړي، چې د ټولې نړۍ د ټول نفوس لپاره بسنه وکړي. بل سبب یې دا دی چې اوس هره کمپنۍ هڅه کوي، چې ځان د طب په ډګر کې تر خپلو سیالو شرکتونو پیاوړی وښیي او ثابته کړي چې نړۍ ته ښه درمل وړاندې کولای شي. دا په حقیقت کې د دوی مالي ګټې هم خوندي کوي.

تر دې مهاله په نړۍ کې د کرونا ۲۵ میلیونه واکسینونه تطبیق شوي، چې تر ټولو زیات یې په چین او متحده ایالاتو کې تزریق شوي دي.

اوسمهال د طبي ټولنو هدایت دا دی، چې واکسین یوازې هغو کسانو ته ورکول کیږي، چې عمرونه یې ۱۸ کلن او یا تر دې لوړ وي. د شکرې، زړه، او اعصابو ناروغانو لپاره دا واکسینونه د اوس لپاره خوندي دي، خو یوازې ماشومان، حامله ښځې او د سرطان ناروغانو ته باید دا واکسین ور نه کړل شي، ځکه وخت ته اړتیا ده څو په دې برخه کې نورې څېړنې هم وشي. د اوس لپاره د سر درد، د بدن درد او د ستنې وهلو په وخت کې لږ درد د کرونا واکسین جانبي عوارض بلل شوي دي.


د کرونا واکسین په اړه یوه نړیواله څېړنه ښیي، چې د چین هیواد د اوسیدونکو نظر د واکسین په اړه، د نړۍ تر ټولو هیوادونو ډېر مثبت دی او ۸۰ سلنه وګړو یې د کرونا واکسین د منلو هوډ کړی دی. په برېټانیا کې بیا ۷۹ سلنه وګړو او په متحده ایالاتو کې ٦۹ سلنه خلکو د کرونا واکسین اخیستلو ته زړه ښه کړی دی. د فرانسې هیواد یوازې ۴۰ سلنه وګړو د کرونا واکسین لګولو ته لېوالتیا ښودلې ده.

پر کرونا اخته ناروغان واکسین کولای شي؟

د اوس لپاره د کرونا ناروغانو ته دغه واکسین نه ورکول کیږي، یانې که چېرې د کوم چا د کرونا ټیسټ مثبت وي، نو باید په امریکا کې د ټیسټ له ورځې څخه بیا تر ۹۰ ورځو پورې انتظار شي او په برېټانیا کې بیا ۲۸ ورځې وروسته، څو د واکسین وړ وګرځي؛ خو دا شرایط شاید وروسته تغییر وکړي، ځکه لا هم ساینسپوهان په دې اړه یو واضح نظر نه لري.

# تر غبرګونونو او نیوکو وروسته؛

## ولسمشر غني په نیمروز کې د ملکي وګړو پر مرګ ژوبله خواشیني څرګنده کړه



د مدني او حقوقي فعالینو تر فشار وروسته ارګ ومنله چې په نیمروز کې په یوه هوایي برید کې ملکي وګړي وژل شوي دي. دا تر اوږدې مودې وروسته لومړی ځل دی چې ارګ په هوایي برید کې د ملکي وګړو تلفات مني او غندي یې. ولسمشر غني وروسته له هغې دغه پېښه غندلې چې په ټولنیزو رسنیو کې یې سخت غبرګونونه وپارول. یوه هوایي برید په یوه ځای د یوې کورنۍ ګڼ غړي ووژل او ټول افغانان دې مسئلې غوسه کړي دي. د هېواد ولسي جرګې هم دغه پېښه غندلې او اروپایي ټولنې هم پر دې مسئله غبرګون ښودلی دی.

سره له دې چې وخت ناوخته په هېواد کې د هوایي بریدونو له امله ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوړي، خو ډېر وخت حکومتي چارواکي پر دې تلفاتو پټه خوله وي. کله داسې هم شوي چې د ملکي تلفاتو افشا کوونکي چارواکي له دندو لرې کړل شوي او حکومت په ځلونو د پېښو د پلټلو ژمنې کړې، خو تر پېښې وروسته یې هېڅ راز معلومات له ولس سره نه دي شریک کړي. د شنبې په شپه ناوخته هوایي ځواکونو د نیمروز په خاشرود ولسوالۍ کې پر یوه کلي هوایي برید وکړ، چې د معلوماتو له مخې، د اتلسو ملکیانو ژوند یې واخیست.

دې مسئلې سخت غبرګونونه وپارول. په پاکستان کې د افغانستان پخواني سفیر عمر زاخېلوال په یوه ټوېټ پیغام کې ویلي چې د ملکي افغانانو وژل که له هر لوري وي، ستر بشري جنایت دی او باید په اړه یې پلټنه وشي. نوموړي همدا راز ویلي وو چې په هوایي بریدونو کې د ملکیانو وژل کېدل د حکومت او ولس ترمنځ واټن ډېروي چې په دې حساسو شرایطو کې دا مسئله د هېچا په ګټه نه ده. هغه تمه ښودلې چې ژر تر ژره دې دغه ډول بریدونه په هېواد کې ودرول شوي او د شوو بریدونو په اړه هر اړخیزه پلټنه دې وشي.

پخواني ولسمشر حامد کرزي هم د یوې اعلامیې په خپرولو سره په هېواد کې د روانه جګړه غندلې او د ملکي وګړو تلفات یې د جدي اندېښنې وړ بللي دي. هغه په یوه خپره کړې اعلامیه کې ویلي، چې پر ملکي وګړو هوایي برید او یا داسې سیمې په نښه کول چې په هغه کې ملکي وګړي اوسي بشر ضد جنایت دی او باید په اړه یې بشپړه پلټنه وشي. نوموړي پر حکومت غږ کړی چې ژر تر ژره دې د پېښې عاملین د قانون منګولو ته وسپاري او له دوی سره دې حساب کتاب وشي. په ټولنیزو رسنیو کې هم عامو کاروونکو دغه برید په کلکو ټکو غندلی و او له حکومت یې په دې اړه د وضاحت غوښتنه کړې ده. له دې ټولو فشارونو وروسته ارګ دا ومنله چې په نیمروز کې په یوه هوایي برید کې ملکي وګړي وژل شوي دي. د ارګ له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې اعلامیه کې راغلي چې ولسمشر پر دې پېښې خواشینی دی او په اړه یې د پلټنو او هر اړخیزو تحقیقاتو امر کوي. ولسمشر غني د دې پېښې اصلي عاملین طالبان بللي او په خبره یې، دوی د خلکو په کورونو کې پنا اخلي او له دوی د سپر استفاده کوي. په اعلامیه کې راځي: ((طالبان او نورې تروریستي ډلې چې د خلکو له کورونو او عامه ځایونو څخه د سپر په توګه ګټه اخلي، د ملکي تلفاتو اصلي عاملین او ملکي تلفات د جګړې له بدبختیو څخه دي چې ما او د حکومت نورو مسوولینو ته د منلو او زغم وړ نه دي)).

ولسمشر غني همدا راز امنیتي او دفاعي ځواکونو ته سپارښتنه کړې، چې د ترهګرو ډلو پر ضد خپل عملیات په پوره پیاوړتیا روان وساتي، خو تر څنګ یې دې د ملکي وګړو د خوندیتوب لپاره هم ټول اړین موارد په پام کې ونیسي.

بلخوا د هېواد ولسي جرګې هم دغه پېښه په کلکو ټکو غندلې او په اړه یې د هر اړخیزو پلټنو غوښتنه کړې ده. ولسي جرګې رییس میر رحمان رحماني د تېرې ورځې په غونډه کې د خبرو پر مهال وویل چې دا پېښه هېچا ته د منلو نه ده او حکومت یې باید په اړه هر اړخیزې او بشپړې پلټنې وکړي او معلومات دې له ولس سره شریک کړي.

# په یمن کې د کړکیچ په دوام؛

## امریکا: ډېر ژر به د یمن حوثیان د ترهګرو په تور لېست کې شامل کړو

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو وایي، ډېر ژر به د یمن حوثیان د ترهګرو په تور لېست کې شامل کړي. له بهرنیو چارو وزارت څخه دا تمه کېده، چې د ولسمشر ټرمپ د دورې په وروستیو ورځو کې به پر ایران د مخ پر ډېرېدونکو فشارونو په ترڅ کې دا اقدام هم کوي.

پمپیو ویلي چې دا اقدام به د جنورۍ له ۱۹ وروسته عملي شي. د بهرنیو چارو وزارت په اعلامیې کې راغلي چې د دغه کار موخه دا ده چې د ایران له ملاتړه برخمن شیعه حوثي یاغیانو او د دغې ډلې له دریو مشرانو سره د یمن له سرحد د باندې د بریدونو، د ولسي خلکو، تاسیساتو او بېړیو ته د ګواښونو له کبله حساب او کتاب وشي. پمپیو دغه راز ویلي، چې د دغه کار بله موخه په یمن کې د تاوتریخوالي د ختمولو د هلو ځلو چټکول دي.

د یادونې ده چې حوثي شیعه یاغیانو په ۲۰۱۴ز کې د حکومت پر ضد پاڅون وکړ او د یاد هېواد پلازمېنه صنعا یې یې خپل کنټرول لاندې راوسته. په ۲۰۱۵ز کې د سعودي په مشرۍ ائتلاف د دغې ډلې پر ضد عملیات پیل کړل، چې یاغیان وشړي او په نړیواله کچه د یمن پېژندل شوی حکومت بېرته راولي.

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو څانګه وایي، چې په یمن کې د جګړې له پیل راهیسې ۲۳۳ زره کسان وژل شوي او مړه شوي، چې له دې ډلې یې ۱۳۱زره کسان د خوړو او روغتیایي خدمتونو د نشتوالي او کموالي له کبله مړه شوي.

د امریکا تر دغه اقدام مخکې د بشري حقونو سازمانونو اندېښنه ښودلې وه، چې په دې کار سره به په یمن کې ولسي خلکو د بشري مرستو رسول ستونزمن شي.

خو د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په اعلامیې کې د پمپیو له خولې ویل شوي: «امریکا پوهېږي چې دا اقدامات به په یمن کې بشري حالت باندې اغېز کوي. موږ پلان لرو ځینې داسې اقدامات وکړو، چې په ځینو مشخصو بشري فعالیتونو او یمن ته د موادو په انتقال باندې یې اغېز کم کړي.»

پمپیو دغه راز پر ایران غږ کړی چې حوثي شیعه یاغیانو ته د وسلو انتقال ودروي. هغه پر حوثیانو هم غږ کړی، چې د ایران له انقلابي ګارد سره خپلې اړیکې پای ته ورسوي.

د یادونې ده چې د یمن حوثیان چې د انصارالله ډلې په نوم هم پېژندل کیږي، اوسمهال د دغه هېواد شمالي سیمې په کنټرول کې لري او د عبدربه منصور هادي د حکومت پر ضد جنګیږي.


## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. ايس دولت، اسددوراني او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

## څلورمه برخه

**کابوکي**




دوراني: هو! په تقريباً شوې معاملې هېڅ هم نه کېږي. د بې نظيرې د دويمې دورې پر مهال نږدې وو چې د کورنيو چارو وزير نصير الله بابر (خدای دې يې وبښي) په کراچۍ کې د جګړه مارو پر خلاف عمليات وکړي، خو دولت را وپرځېد. په (۱۹۹٦) کال کې د ۱۹٦۴ کال په څېر چې شيخ عبدالله په پاکستان کې و، موږ ورسره يوې لويې موافقې ته تقريباً رسېدلي وو، خو دغه وخت نهرو ومړ. همدارنګه که مشرف په ۲۰۰۷ کال کې په کور د ننه له ستونزو سره لاس او ګرېوان شوی نه وای، نو د کشمير مسئله به يې فيصله کړې وه.
دا «تقريباً» ډېر ځله تکرار شوي دي. د يوه رياضيپوه د خولې خبره ده، چې که يو کار تقريباً و نه شو، نو مانا يې دا ده چې د نه کېدو لپاره ۱۰۰ سلنه چانس و.
دولت: ډاکټر منموهن سېنګ به تل د کشمير او پاکستان په فکر کې و. د تأسف ځای دی چې دی له ځينو محدوديتونو سره مخ و. زه د جنرال صېب دا خبره تاييدوم چې د ده په خبره د هند استېبلېشمېنټ چې زه يې هندي بېروکراسي بولم ډېره زوروره ده. په دې تړاو دويمه لار نشته. د هند بېروکراتان ډېر هوښيار دي، ګوري چې سياسيون څه غواړي؟ په دې ورځو کې بېروکراسي ټوله پر «مودي جي» پلورل شوې ده.
خو بيا هم سياست او رهبري د دې ستونزې د هوارې کيليګانې دي. واجپای چې په بس کې لاهور ته لاړ، په ډيلي کې خلک له خوشالۍ په جامو کې نه ځايېدل چې ګواکې له پاکستان سره زموږ ټولې ستونزې حل شوې، مسئلې حل شوې. خلاص.
دوراني: ښه دا وي چې د افرادو پر ځای اداري جوړښتونه پياوړي وي. د هند لويه نېکمرغي دا ده چې اداري په ګډه کار کوي، پر ملي پاليسيو يوه اجماع رامنځته کوي او له همدې پاليسيو د دفاع په پار يو ځای کار کوي. خو تور اړخ يې بيا دا دی چې «دايمي استېبلېشمېنټ»، همدغه بېروکراسي داسې انګېري چې دوی د پاليسۍ خدايان دي. بس دوی چې څه پرېکړې کوي، په هغو پسې دومره نښتي دي، چې آن د ښه بدلون راوستل، يا د زمانې له روحيې سره ځان برابرول پکې ناشونی کار ښکاري. له دې دا ښه ښکاره کېږي چې دواړو غاړو ته عوام او سياستوال له بيا بيا غوښتنو سره سره، لا هم په دې سيمه کې ان له (flimsy visa) رژيمه لا ځانونه نه شي ازادولی. که څه هم وويل شول چې د دواړو هېوادونو جګپوړي چارواکي له ويزې اخيستلو معاف دي، يا چې پلانۍ او بېستانۍ ډله خلک چې را ورسېږي، ويزه ورکوو، دا يو هم عملي شوي نه دي. د کډوالۍ دفتر مامور به يې نه وړي نه راوړي، درته به وايي: « بهائی مجهے تو ليٹر ابهی تک آيا نہيں ہے » مطلب وروره ما ته تر اوسه پورې رسمي مکتوب نه دی راغلی.
مشرف چې واک ته ورسېد، له ماني ډېکشېټ نه پوښتنه شوې وه چې اوس اړيکې کومې خوا ته روانې دي؟ ده په ځواب کې ويلي وو؛ تاريخ راته دا وايي چې کله په پاکستان کې واک له پوځ سره وي، نو د هند-پاکستان اړيکې ورسره ښې کېږي.
دا خبره خپل دليل لري، پوځ خپله د وړانديز کولو لپاره ډېر څه لري. واک چې دې په لاس کې وي، بيا به نو غواړې چې تر ممکنه بريده ختيځ سرحد ارام وي او همدارنګه شرقي ګاونډي ته ښه پيغامونه ولېږې. نو دلته يو پراګماټيک دليل شته. د پاکستان پوځ د هند خلاف نه دی. کله چې جنرالان له يو بل سره خبرې کوي، دوی سخت عمل نه کوي، دوی وايي موږ اړيکې سمبالولی شو. زما لکۍ په يوه سياسي ګوند پورې هم غوټه نه ده، سياسي ګوندونه راباندې فشار راوړلی نه شي.
د هند ښېګڼې د دوی د دولت له ظرفيته سرچينه اخيستې ده. د مودي او ډوال پر وړاندې، نواز شريف او جنجوعه دي.
سېنها: دوه نفره سيالي.
دوراني: سيالي نه! څه نواز شريف او «ناراسيما راو» سره پرتله کړه. مطلب مې دا دی چې زموږ غاړه ستونزې لري. ناراسيما راو ۵۰ کاله د قدرت په دهليزونو کې ګرځېدلی و، په ډېرو خبرو يې سر خلاص و. خو زموږ غاړې ته داسې څوک لومړی وزير و چې همدا يې لومړی ځل و. تر دې مخکې تجربه يې هم په «تاڼه او محکمه» کې راټولېږي. دی بيا پر دې باور و چې د هند او پاکستان اړيکې ښې کولای شي.
سړی ناکام شو. ناراسيما ته پته وه چې له ده سره څنګه چلند وکړي. د نواز شريف د کار د پيل په لومړيو شپږو مياشتو کې يې پرې غوړونه کاڼه اچولي وو. دغه کار دغسې کېږي. کلونه وروسته دا کار د مشرف له طرحې سره هم تکرار شو. ناراسيما راو چې شپږ مياشتې ځان و نه ښوراوه، ميا صېب ويل: «هان،جواب ہی نہيں آتا» مطلب د دوی د ځواب خو څه درک نه لګېږي، اوس بايد څه وکړو؟
ستا غاړه چې دا ښېګڼه لري، نو د اړيکو د بدتر کولو پړه بيا ولې پر پاکستانۍ غاړه ور اچوي؟ زموږ وال نه پوهېږي چې په کشمير کې له پرمختګونو څنګه ګټنه وکړي؟ او يا د دې مسئلې لپاره پرمختګونه څنګه را منځته کړي؟ دا اوس چې څه روان دي هسې په توکل روان دي، شايد دا پاکستان ژغوري، خو دا ستاسو وال غلطي نه ده، ستاسو وال خو قسم کړی چې پاکستان ته به اسودګي نه ورکوي او بل حالت به نه بدلوي.

**دوام لري...**

# الفريده يلينک

شفيق اميرزی



الفريده يلينک د اتريش مشهوره ليکواله ده چې د توماس برنهارد اتريشي په څېر په ټوله نړۍ کې مشهوره شوه. هغه په خپلې ليکوالۍ وکړای شول چې د اتريش له پولو واوړي او ځان نړۍ ته ور وپېژني. ليکوالي يې وکړه، پنځونې يې وکړې، ډېرې ادبي جايزې يې وګټلې او ان د نوبل جايزې تر ګټلو پورې ورسېده. په ۲۰۰۴ کال کې د نوبل بنسټ هغه د ادبياتو په برخه کې د نوبل جايزې ګټونکې وبلله.
الفريده يلينک په ۱۹۴٦ کال کې په اتريش کې زيږېدلې ده. هغه اوس د مونيخ په وين ښار کې ژوند کوي.
الفريده يلينک په ۱۹۴٦ کال کې له چکي پلار او رومانيايي مور په اتريش کې وزيږېده. پلار يې يو کيمياپوه و، د ماشومتوب وختونه يې په وين کې تېر کړل. د نوتردام په نامه يې په يوه مذهبي ښوونځي کې زده کړې پيل کړې. په همدې ښوونځي کې يې فرانسوي ژبه او نور هغه مهالني علوم ولوستل. په همدې کال کې يې مور هغه يوې ښوونکې ته ور ورسته چې پيانو او ويلون هم زده کړي. يلينک په ١٦ کلنۍ کې د موسيقي هنرستان ته لاړه، خو ژر په دې پوه شوه چې په دې برخه کې استعداد نه لري. هغه لا زده کوونکې وه چې شعر ليکل او شعر ويل يې زده کړل. د پروتکل په نامه په اتريشي مجله کې يې شعرونه چاپېدل. پلار يې يو سوسيالست و، هغه په سياسي فعاليتونو کې هم بوخت و او دومره وځورول شو، چې په ۱۹٦۸ کال کې يې خپله رواني روغتيا وبايلله، ان تر ليونتوبه ورسېد او په رواني روغتون کې بستري شو. مور يې هم يوه مستبده کاتوليکه وه. له دې سره يې چلند تل له تريخوالي ډک و. د نوموړې پر ژوند د خپلې مور د چلند اغېز و او همدا راز د پلار له امله رامنځ ته شوی وضعيت هم بې اغېزې نه و.
مخکې مو هم وويل چې د نوموړې مور غوښتل الفريده موسيقي د ځان لپاره د مسلک په توګه غوره کړي، خو هغه پوه شوه چې په دې برخه کې استعداد نه لري، نو ځکه يې د موسيقي زده کړې پرېښودې او د تاريخ، ادبياتو او هنر په اړه يې مطالعه پيل کړه. نوموړې د پوهنتون له وخته نيولې بيا تر ډېرو اوږدو کلونو پورې سياسي فعاليتونه هم لرل. سياسي فعاليتونو او فکر يې هم پر ژوند او اثارو اغېز لرلی دی.
هغه تر ۱۹۹۱ کال پورې د اتريش د کمونيست ګوند غړې وه، خو وروسته يې په دغه ګوند کې د ځينو غړو پر کړنو او چلندونو سختې نيوکې وکړې، له دوی بېله شوه او دې مسئلې هغه نوره هم مشهوره کړه. الفريده ليکواله ده، خو يوه عادي ليکواله نه ده. نورمال ذهني فعاليتونه لري، پخپله وايي چې له يو ډول رواني اختلال ځورېږي. له ځايونو، ټولنې او ګڼې ګوڼې وېره لري، له همدې امله يې د نوبل بنسټ له لوري د جايزې د ورکړې په مراسمو کې هم ګډون و نه کړ. هغې دې بنسټ ته يوه ويډيو لېږلې وه، پکې غږېدلې وه او د خپل نه ورتګ لامل يې روښانه کړی و. د نوموړې په خبره، د نوبل د جايزې د ورکړې په مراسمو کې د پيټر هاندکې تقليد کوي، هغه هم په مراسمو کې ګډون نه و کړی او ويډيويي پيغام يې استولی و. نو ښايي درته په زړه پورې وي چې د رواني ستونزو او ځينو اختلالونو لرونکې د نوبل جايزه ګټې، خو دې ته بايد متوجه وو چې دا ستونزې يې د کار خنډ نه دي، بلکې ليکل کوي، نوی سبک لري، زرګونه مينه‌وال لري او لا هم په کتابپلورنځيو کې مينه‌وال د هغې د کتاب پوښتنه کوي.
د نوموړې د اثارو په اړه ډول ډول نظريات موجود دي. خپل لومړنی ناول يې په ۱۹۷۰ کال کې چاپ کړ. هغه په معاصرو ادبياتو کې له ډېرو اغېز لرونکو شخصيتونو ده. خو بيا يې هم ليکنې، ننداړې او کيسې د نقادانو له نيوکو او نقد سره مخ دي. په ادبي جريانونو کې يې ناندرۍ راولاړې کړې دي. جنسي بدرفتارۍ، جنسي موضوعات، د ښځينه وو او نارينه وو ترمنځ جګړې او تاوتريخوالی او داسې نور مسايل را نغاړي چې ډېر وخت له نقد سره مخ کېږي. په داسې اثارو کې لکه (ګرانه موږ يوازې ګوله نه يو)، معشوقې، د پيانو معلم او نورو اثارو کې خپل نظريات په سمه توګه انځوروي. نوموړې په ځانګړې مهارت د کرکټرونو تر منځ ناندرۍ، د قدرت لپاره سيالۍ، د انسانانو تر منځ اړيکې او کشمکشونه انځوروي. لوستونکي ته جټکه ورکوي، هېښوي يې، حيرانوي يې او تر پايه يې له ځان سره بيايي. يلينک په دې باور ده چې قدرت او تاوتريخوالی د انسانانو تر منځ د اړيکو جوړولو لپاره اغېزناکه قوه ده.
د شهوت په نامه يې يو ناول خپور کړی دی. په دې ناول کې يې د جنسي بدرفتاريو او کشمکشونو په اړه مسايل راوستي دي. دې اثر دومره د خلکو پام ځان ته را وا نه ړاوه. په دې اثر کې يې تر ډېره د انسانان د اخلاقي ماتې يا شکست او انسان د مسخره کولو صحنې راغلې دي. له همدې امله وايي چې دا اثر يې د يوې ستونزې د حل پر ځای د انسانانو پر ژوند ملنډې وهي. خو د پخوانيو اثارو برعکس يې په اوس وخت کې د ښځينه مسايلو پر ځای تر ډېره عمومي ټولنيز نقد ته پاملرنه کړې ده. په ننداړو کې يې خبرې لږ دي، انځورونه پکې ډېر وي او تر ډېره پر فاشيزم او نورو مسايلو بحثونه کوي.
په انټرنيټي پاڼو او ادبي بحثونو کې نوموړې ته د فيمنيستي خطاب کوي. دوی وايي، الفريد داسې ليکواله ده چې فيمنيستي افکار لري. د نوموړې اثار تر ډېره په هغو هېوادونو کې ناپېژانده دي چې له الماني ژبې سره بلدتيا نه لري. په ۱۹۹۰ کال کې د يورګ هايدر پر وړاندې ودرېده. همدې مسئلې تر يوې کچې مشهوره کړه. منتقدان يې وايي چې اثار يې دومره ادبي وزن او ښکلا نه لري. په زړه پورې خو دا ده چې نوي منتقدان يې تر ډېره نوی امريکايي ادبي نسل دی. روث فرانکلين وايي، د نوبل ادبي جايزې تل له ناندريو ډکې وې، خو دا جايزه له خورا ډېرو ناندريو ډکه وه. هغه په دې باور دی، چې الفريده يلينک د خصمانه فيمنيزم ملاتړې ده او د نوبل بنسټ له لوري نوموړې ته د دې جايزې ورکړه په اصل کې د نوبل بنسټ هويت ته ستره ضربه ده.
خو د نوبل بنسټ بيا څه وايي؟ دغه بنسټ په دې باور دی چې هغه د يوه ځانګړي او متفاوت سبک خاونده ده. د ياد بنسټ د ادبي برخې کمېټې په ۲۰۰۴ کال کې پرېکړه وکړه چې د نوبل د دې دور ګټونکې الفريده يلينک وبولي. د ياد بنسټ په خبره، نوموړې په خپلو اثارو کې يو ځانګړی سبک او رسا ژبه استفاده کړې ده. هغې په پوره مهارت په ټولنه کې کليشه موضوعات را اخيستي دي، داسې يې وړاندې کړي چې لوستونکي ته نوي ښکارېږي او زاړه نه ورته برېښي. يلينک لسمه مېرمنه وه چې د نوبل جايزه يې وګټله. همدا چې خبره شوه د نوبل جايزه يې ګټلې، نو ويل يې چې اخيستلو ته يې نه شي ورتللی. هغه د خبر په اورېدو حيرانه شوه، باور يې نه کاوه، مخکې مو يادونه وکړه چې هغه سوشيل فيبيا لرله، يا له جمعيت د وېرې رواني ناروغي يې لرله، نو ځکه يې پرېکړه وکړه چې د نوبل جايزې اخيستو لپاره پخپله نه ورځي. هغه مهال د نوبل بنسټ مشر هوراس انګدال په يوه ټلوېزيوني مرکه کې وويل، پوره هڅه به وکړي چې الفريد د نوبل اخيستلو لپاره ستاکهلم ته راولي، خو بريالی نه شو. دا لومړی ځل نه و چې د نوبل يو ګټونکی يا ګټونکې د دغه جايزې لپاره په جوړو شوو مراسمو کې ګډون نه کوي؛ بلکې په ځلونو داسې شوي دي، خو داسې هم شته چې په وروستۍ شېبه کې يې پرېکړه بدله شوې او د نوبل بنسټ په مراسمو کې يې ګډون کړی دی.
موږ مخکې وويل چې يلينک مشهوره وه، منتقدان او ملاتړي يې لرل، نو داسې نه وه چې د نوبل له ګټلو سره هممهاله مشهوره وه، بلکې د نوبل ګټل يې د بحثونو د پارېدو سبب شول. دا چې اثار يې تر مخ خلکو لوستي وو، نو د نوبل پر بنسټ يې سختې نيوکې وکړې چې ولې يې جايزه داسې يوې ليکوالې ته ورکړه چې تل د ناندريو سبب ده او له معاصر ادبياتو سره ګام پر ګام نه ده روانه.
ډېرو منتقدانو د نوبل بنسټ پر ادبي کمېټې نيوکې وکړې چې دې ۵۷ کلنې اتريشۍ ته يې د جايزې په ورکړه د نوبل باور له خاورو سره خاورې کړی دی. يوه ډله بيا داسې راپيدا شوه چې د نوبل دا پرېکړه يې له زړورتيا ډکه وبلله او په خبره يې د نوبل بنسټ د نړۍ متفاوتو ادبياتو ته جايزه ورکوي او هڅونه کوي. خو دا خبره بايد هېره نه کړو چې يلينک لا هم په ادبي نړۍ کې د نورو نوبل ګټونکو هومره مشهوره څېره نه ده. تاسې اوس هم د هغې کومه تازه مرکه نه شی پيدا کولی او نه يې هم مينه‌وال دومره ډېر دي. د نوبل جايزې په ګټلو هم هومره مشهوره نه شوه لکه د دې جايزې نور ګټونکي چې مشهوره کېږي او مينه‌وال پيدا کوي. له مرکو په تېښته ده، لا هم له رسنيو سره خبرې او مرکې نه کوي.
ادبي نقادانو د يلينک پر ډېرو اثارو نقدونه او ليکنې کړې دي. د پيانو معلم يې په ۱۹۸۳ کال کې چاپ کړ. په دې کتاب کې يې د يوې مېرمنې دردونه او ستونزې انځور کړې دي. داسې ستونزې او مسايل چې هغې ته د نارينه وو له لوري جوړېږي او دا بايد ځان له هر ډول جنجالونو وژغوري. يوازې له خپلې مور سره عجيبه اړيکه لري، مور يې غوسه ناکه او مستبده وي، ځينې ليکوالان په دې باور دي چې دا په حقيقت کې د يلينک خپل ژوند دی. د نوموړې د ستونزو او کشمکشونو انځورونه ده. ځينې نقادان بيا دا يو مبتذل او بې مانا داستان بولي. ليکوال او نقاد فرانکلين وايي چې د هغه کتاب سره له دې چې د ښځينه وو ستونزې منعکسوي، خو ان د هغو خلکو پام يې هم ځان ته نه دی اړولی چې د ښځينه وو په اړه له مطالعاتو يا فيمنيزم سره اړيکه لري او يا فعاليت پکې کوي.
په امريکا کې بيا له بېلو اړخونو د نوموړې پر اثارو نقد کېږي. يو لامل يې هم دا دی چې هغه د امريکايي سياستونو او امريکا مخالفه ده. په جګړو، ناندريو او سياسي معاملاتو کې د امريکا پر کړنو سختې نيوکې کوي او تل يې غندي. همدا اوس يې هم وېبپاڼه له ټولو هغو انځورونو ډکه ده چې په ابوغريب او نورو زندانونو کې د امريکايي ځواکونو له ظلمونو او وحشتونو اخيستل شوي دي. سره له دې ټولو ناندريو تر دې دمه د يلينک اثار د نړۍ اتلو ژبو ته ژباړل شوي دي. په الماني ژبو هېوادونو کې ډېر لوستونکي لري. د نوبل جايزې تر څنګ يې ډېرې نورې جايزې هم ګټلې دي. له دې ډلې د کافکا ادبي جايزه هم يلينک ته ورکړل شوې ده. هانريش بل، ګيورک بوشنر، هانريش هاينه نورې هغه جايزې دي چې الفريد يلينک ګټلې دي. د نوبل بنسټ چې کله الفريد يلينک ته د نوبل جايزه ورکړه، چا دا ګومان نه کاوه چې دومره ناندرۍ به رامنځ ته کړي، خو د نوبل بنسټ له خپلې پرېکړې دفاع وکړه او په خبره يې نوموړې په ادبي مسايلو کې نوې ژبه کارولې ده، کليشه يې مسايل يې په خورا نوې بڼه وړاندې کړي دي او لوستونکي ته په زړه پورې وي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦،۷٥ |
| € | ۸۹،۲۰ |
| Rp. | ٤۷٥ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۸،٥۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پوليس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتيايي مرکز
166

همیانی

# څنګه د خپلو موخو څښتنان کېدای شی؟

ژباړه: امان الله حنيفي

که غواړی چې هغه کس جوړ شی چې تاسې یې غواړی او هغه موخې چې تاسې یې څښتنان یاستی، په خپل ذهن کې ښې تصور کړی، لاندې کړنې تر سره کړئ:

**۱ـ له ځان سره مو ژمنه وکړئ**

ممکن یو کس هم پر تاسې باور ونه کړي او تاسې بریا ته ونه رسېږی، خو که پر ځان باور ونه لری، هېڅکله به بریالي نه شی. که پر ځان باور نه لری، بیا دا هم نه شی کولای چې په ارامۍ سره پر نورو شیانو باور وکړی او یا هېڅ دا انګېزه نه لری چې یو قدم پرمخ واخلی. خو هغه کسان چې د خپلو موخو مسوولیت مني او پر ځان باور لري، په ډېرې راحتۍ او ډاډ سره له ځان سره ژمنه کولای شي.

«حتی که پر تاسې یو کس هم باور ونه لري، بیا هم کولای شی بریا ته ورسېږی؛ خو که پر ځان باور ونه لری، هېڅکله به بریالي نه شی.»

د خپلو موخو څښتن اوسېدل په دې مانا چې پر ځان باور ولرئ او ټولې وېرې مو له زړه وباسئ. د «اکیلا او سیالي» فیلم ډېرې صحنې پر ځان او وړتیاوو باور لرلو ته اشاره کوي.

د دې فیلم کیسه د اکیلا په نوم د یوې نجلۍ پر ژوند راڅرخي، چې په لاس انجلیس کې ژوند کوي. هغه پر ډېرو ستونزو او مشکلاتو برلاسې کېږي او د دې لپاره هڅه کوي چې د هجې په نړیوالو سیالیو کې ګډون وکړي. کله یې چې استاد ډاکټر لارابي له هغې وپوښتل: «ایا په ژوند کې کوم هدف لرې؟ کله چې لویه شې، څه غواړې؟ ډاکټره، وکیله او یا هم کمپډنه؟ اکیلا ځواب ورکړ: «نه پوهېږم، خو یوازې دومره پوهېږم چې په هجې کولو کې پیاوړې یم.»

استاد یې هغه ته یوه تابلو وښوده او وویل: «لاړه شه هلته او هغه مطلب چې پر هغه تابلو لیکل شوی، په لوړ اواز یې ولوله!»

اکیلا وویل: «زموږ لویه وېره له دې نه ده چې موږ نالایق او بې کفایته یاستو، بلکې وېره مو له دې ده چې موږ له اندازې زیات پیاوړي یاستو. موږ له ځانه پوښتو، زه څوک یم چې پیاوړی او بااستعداده و اوسم؟ په اصل کې دا پوښتنه داسې مطرح شوې ده چې دا ډول شی؟ موږ دې دنیا ته د دې لپاره رالېږل شوي یو، څو د خدای ج هغه وړتیا چې موږ ته یې راکړې ده، په مټ یې د دې دنیا هستۍ ته ښکلا ور وبښو. کله چې د خپلې دروني وړتیا څرګندولو ته چانس ورکړو، نورو ته هم دا فرصت ورکوو چې هغوی هم دا کار وکړي.»

لارابي پوښتي: «ایا همدا څه تاسې ته کومه مانا لري؟ دا یانې څه؟»

هغه بېرته ځواب ورکوي: «دا یانې موږ باید ونه وېرېږو.»

لارابي: «له څه وېره؟»

اکیلا: «وېره له .... .»

تاسې تر هغې چې پر خپل ځان باور ونه کړی، پر خپلو موخو باور نه شی کولای. په همدې اړه تاسې ته یو مطلب وایم: زه په زړه کې لویې لویې موخې لرم، ځکه فکر کوم چې ورته رسېدلی شم، نه په دې دلیل چې زه خلاق او نوښتګر یم. هر څوک دا وړتیا لري چې هرڅه خلق کړي او هرڅه ته په ارزښت قایل شي. زما وده او پرمختګ کول له ماشوموالي پیل شوي وو. مور، پلار او ښوونکي مې راسره مرسته کړې وه. له هغه وروسته مې هم ښوونکو، د ژوند ملګري او هم اولادونو راسره مرسته کړې ده. دې ټولو زما حوصله او وړتیاوې لوړې کړې دي.»

که غواړی چې بریالي اوسی، باید باوري اوسئ چې کوم کار به کوی. که غواړی چې خپلې موخې پر حقیقت بدلې کړی، باید له ځان سره ژمنه وکړئ.

**۲ـ د دې پر ځای چې ژوند مو څنګه دی او هغسې چې دی هماسې یې ومنئ؛ پر ځای یې هغه رهبري کړئ**

د انتخاب او ټاکنې وړتیا تر ټولو پیاوړې ځانګړنه ده چې یو څوک یې لري. له بده مرغه ډېری کسان پرته له څنګې او ولې ژوند هغسې چې دی، مني یې او هېڅکله نه شي کولای چې رهبري یې کړي. بالاخره هغه کسان خپله ځان ته پر یوه ستونزه بدلېږي او نه شي کولای چې پر هغو ستونزو برلاسي شي چې د دوی د پرمختګ مخه نیسي.

د یوې موخې د لرلو لپاره باید د خپل ژوند کنټرول په خپل لاس کې ولری او ژوند مو څنګه چې دی، هغسې یې ومنئ. الي ویسل د دویمې نړیوالې جګړې سرتېری لیکي: «کله چې مړ شي او له خپل خالق سره ملاقات وکړې، هلته له تا څوک نه پوښتي چې ولې دې د سرطان لپاره درمل کشف نه کړل، هلته له تا پوښتي چې ولې پر هغه کس چې توانایي او وړتیا یې مو درلوده، بدل نه شوې؟»

خپلو خدای راکړل شوو وړتیاوو ته رسېدنه یا له هغه ګټنه، په دې پورې تړلې چې د خپل ځان او ژوند مسوولیت مو خپله ومنئ، مانا دا چې د یو فعال رهبر نقش ولوبوئ.

څنګه کولای شی دا کار وکړی؟ ځان ته په هو ویلو، هیلې او موخو لرلو سره دا کار کولای شو. که له نه ویلو سره عادت یاستی، کېدای شي له ځینو ستونزو سره مخ شی. که همدا خبره ستاسې په اړه صدق کوي، لږ تر لږه ځان په هو ویلو هم عادت کړئ. دا له یاده مه باسئ چې تاسې خپله د خپل ځان لپاره یوه معجزه یاستی. مانا دا چې هرڅوک په هغه پورې د تړلو وړتیاوو، تجربو او مناسبو فرصتونو لرونکي دي، چې ممکن نور له هغه محروم وي. دا ستاسې مسوولیت دی چې پر هغه څه بدل شی، چې ستاسې په وجود کې د هغه وړتیا او توانایي شته. دا نه یوازې ستاسې په ګټه دي، بلکې د ټولو په ګټه دي.

**۳ـ له خپل کار سره مو مینه وکړئ او هغه کار وکړئ چې مینه ورسره لری**

ایرونیک برلین د امریکا له پیاوړو موسیقي پوهانو څخه دی، چې ډېرې سندرې او ترانې یې ویلې دي او لا اوس یې هم ترانې د نړۍ د ډېرو پلورل شوو ترانو په کتار کې راځي. له ساندیګو یونیون سره د مصاحبې پر مهال دان فردي له هغه پوښتي: «ایا داسې کومه پوښتنه شته چې تر اوسه له تا نه وي پوښتل شوې او ته غواړې چې هغه له تا وپوښتل شي؟»

برلین ځواب ورکړ: «هو، هغه پوښتنه چې تاسې د هغو بې شمېره سندرو په اړه چې ویلې مو دي او تاسې تر ډېره په همدې کار کې بریالي یاستی، څه فکر کوی؟ او زه ځواب ورکوم چې زه اوس هم داسې فکر کوم چې هغه هرڅه فوق العاده دي.»

بریالي انسانان هغوی دي، چې موخې لري او هغه تعقیبوي. هغوی له خپل کار سره مینه لري او هغه کار کوي چې مینه ورسره لري. هغوی پر دې برلاسي دي چې د خپلو غوښتنو او وړتیاوو رهبر و اوسي. ولې؟ ځکه استعداد، موخې او بالقوه وړتیاوې هر وخت یو پر بل پسې پر حرکت راځي. زه پر دې باوري یم چې خدای پاک هېڅوک داسې نه دي پیدا کړي چې له یوې برخې سره د مینه ولري او په بله برخه کې دې وړتیا ولري. هر وخت د وړتیا او مینې تر منځ مستقیمه رابطه شته.

د «له ژوند سره باید څه وکړم؟» کتاب لیکوال پو برونسون لیکي: «زه دې پایلې ته رسېدلی یم چې تلپاتې بریا په کسب او کار کې هغه وخت پیلېږي، کله چې له ځانه دا پوښتنه وکړو چې له ژوند سره باید څه وکړو؟ هو، رښتیا چې همداسې ده. یو څوک یو فوق العاده صنعت ته په داخلېدو سره نه بریالی کېږي او نه هم د یو مشخص کار په ټاکلو سره بریا ته رسېدای شي؛ بلکې هغه وخت بریا ته رسېدای شي چې له ځانه وپوښتي، دی/دا په اصل کې څوک دی/ده او له دې وروسته د هغه کسب او کار په لټه کې شي، چې مینه ورسره لري.

ډېری بریالي کسان هغسې چې برونسون وایي، عمل کوي. کارلي فیورنیا وایي: «یا ښه په مینه یو کار وکړئ او یا هغه ښکل کړئ او ترې تېر شئ. د نورو د خوښ ساتلو لپاره کار مه کوئ، هغه کار وکړئ چې زړه او ذهن مو یې غواړي. داسې انتخاب وکړئ چې ټول وجود مو پر حرکت راولي».

د نورو د موخو لاس ته راوړونکي مه اوسئ، ولې؟ ځکه کله چې موخو ته رسېدل غواړی، موخې مو هم تاسې ته رسېدل غواړي؛ نو پر دې اساس، د نورو د موخو پالل پر یو وحشتناک غوایه له بدلېدو پرته بل څه نه دي.

## سرچینې: د مذاکراتي پلاوو ځینې غړي لا هم دوحې ته نه دي تللي

ځینې حکومتي سرچینې وايي چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو ترمنځ د سولې په دویم پړاو مذاکراتو کې یو شمېر غړي لا هم غیر حاضر دي.

یوه باخبره حکومتي سرچینه د نوم نه ښودو په شرط وايي، چې لا هم د دواړو لورو د مرکچي پلاوو یو شمېر غړي دوحې ته نه دي رسېدلي.

د سرچینې په خبره، د افغانستان د اسلامي جمهوریت له لوري درې کسان په دې روانو خبرو کې حضور نه‌لري.

سرچینه زیاتوي چې فوزیه کوفي، رسول طالب او فاطمه ګیلاني تر اوسه دوحې ته نه دي رسېدلي.

په ورته مهال د سولې مرکچي پلاوي غړې فوزیه کوفي ازادي راډیو ته ویلي، چې تر اوسه خبرې په جدي ډول نه دي پیل شوي او په خبره یې، ډېر ژر به دوحې ته لاړه شي.

دا په داسې حال کې ده چې د سولې په چارو کې د دولت وزارت وايي، دا مهال د دواړو لورو ترمنځ د اجنډا پر سر اساسي بحثونه پیل شوي دي.

د یاد وزارت ویانده ناجیه انوري وايي چې دواړو لورو د اجنډا پر توحید، تدوین او مفصل کېدو کار روان کړی دی. نوموړې زیاتوي: «د دواړو خواوو د کاري کمېټو کارونه روان دي، د اجنډا پر توحید، تدوین او مفصل بحث باندې کار کوي، دغه شان د مذاکراتو اساسي بحثونو پیل دی، مخکې پیل شوي او اوس دوام لري.»

په ورته مهال پخوانی طالب چارواکی او د افغانستان خلاصون لارې شورا مشر سید اکبر اغا وايي، که د پلاوو ټول غړي هم په بحثونو کې حضور ونه‌لري، خو په خپلو کې دوی سره سلا وي او واک ورکړل شي، کوم خنډ به رامنځته نه‌کړي.

د هغه په خبره: «خدای دې وکړي چې دواړو طرفونو خپلو خلکو ته اختیارات ورکړي وي یا یې ورکړي؛ ځکه چې د افغانستان موضوع ډېره حساسه ده، د سولې موضوع کې اړتیا ده چې دواړه لوري خپلواکي ولري».

## کډوالو چارو وزارت: په ۲۰۲۰ز کال کې له ۸٥۰ زرو ډېر کډوال بېرته هېواد ته راستانه شوي

د کډوالو چارو وزارت وايي، چې په ۲۰۲۰ز کال کې ۸٥۰ زره او ۸٥۷ افغان کډوال بېرته هېواد ته راستانه شوي، چې په وروستیو کلونو کې د بېرته راستانه شویو تر ټولو لوړه کچه جوړوي.

د یاد وزارت د شمېرو له مخې، هېواد ته په ۲۰۲۰ز کال کې له ایران، پاکستان او ترکیې تر ټولو زیات کډوال بېرته راستانه شوي دي. د دغه وزارت په خبره، له یادو هېوادونو په تېر یوه کال کې ۸٥۰ زره کډوال په خپله خوښه هېواد ته راستانه شوي. د سرچینې په خبره، یوازې ایران نه ۸۳۱ زره کډوال راستانه شوي، چې دا د راستنو شویو کډوالو لوړه کچه جوړوي.

د یاد وزارت د رسنیو د برخې سلاکار عبدالباسط انصار وايي: «شاوخوا ۸٥۰ زرو او ۸٥۷ کسان بېرته راستانه شوي، له پاکستان نه ۸۲۲۳ تنه، له ایران نه ۸۳۱ زره او ٦۹۸ او له ترکیې نه بیا ۱۰٦۲٤ تنه کډوال راستانه شوي، تر ټولو زیات بېرته راستانه شوي له ایران بیا ترکیې او بیا له پاکستان نه دي، چې ډېری یې په خپله خوښه راګرځېدلي دي.»

د یادونې ده چې په دې برخه کې یو شمېر مرستندویه بنسټونه؛ لکه د کډوالو په برخه کې د ملګرو ملتونو اداره، په افغانستان کې د کډوالۍ نړیوال سازمان د کډوالو د بیا راستندنې په برخه کې د اسانتیاوو په برابرولو کې د کډوالو چارو له وزارت سره همکاري کوي.

د ملګرو ملتونو سازمان د کډوالو چارو دفتر د رسنیو برخې مسوول نادر فرهاد وايي، هر هغه کس ته چې وغواړي په قانوني توګه خپل هېواد ته راستون شي، د دغه دفتر له لوري ۲٥۰ امریکایي ډالره ورکول کېږي.

د نوموړي په خبره: «د هغو سیمو لپاره چې مجدد ادغام پکې کېږي، زیات پروګرامونه ورته لرو، په شلو سیمو کې د سرپناه جوړول، د روغتیایي کلینیکونو جوړول، ښوونځي او د کار زمینه ورته برابروو، زموږ د ټیمونو او د بېرته راستنو شویو د څلورو مرکزونه له لوري ورسره مرسته کېږي، په روان کال کې مو له دوه زره زیاتو هغو کډوالو سره چې په خپله خوښه راستانه شوي وه، مرستې وکړې.»

د کډوالو چارو وزارت د شمېرو له مخې، په ایران او پاکستان کې دوه نیم میلیونه افغانان د کډوالۍ ژوند تېروي.

مسير
ورځپاڼه
مسوول مدير: اسدالله وحيدي
مرستيال: شفيق اميرزی
ايډيټران: جواد تيموري او امان الله حنيفي
خبرياﻻن: حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري
ګرافيک او ډيزاين: ارمان
چاپخونه: وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د مرغومي ۲۳مه | د ۲۰۲۱ د جنوري ۱۲مه | ٦٦٢مه ګڼه
www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| | کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ▲ | ۱۴ | ۱۵ | ۸ | ۱۰ | ۲۳ | ۷ |
| ▼ | ۱- | ۲- | ۱ | ۲ | ۵ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۲ | لمر ختل ۰۷:۰۰ | ماسپښين ۱۲:۰۲ | مازیګر ۰۳:۲۵ | ماښام ۰۵:۰۳ | ماخوستن ۰۶:۳۲

# صالح: حمله‌های هدفمند را طالبان برای بی‌باوری مردم بالای نظام انجام می‌دهند



معاون اول ریاست جمهوری افغانستان می‌گوید، در حمله‌های هدفمند اخیر طالبان دست دارند و هدف آن‌ها افزایش بی باوری مردم بر نظام است.

رضوان مراد رئیس بخش مطبوعات و روابط عامه آقای صالح می گوید: «دلیل اینکه طالبان مسولیت حملات هدفمند در کابل را به دوش نمی‌گیرند، تمام مردم افغانستان آگاه اند که طالبان هراس دارند که توافق‌شان با امریکایی‌ها از بین نرود، بناً جنگ خود را در کابل متمرکز ساخته اند. هدف این است چگونه فعالیت‌های تیم شش و نیم صبح را ناکام جلوه دهند و دوم چگونه نظام را بدنام ساخته و اذهان عامه را مغشوش کنند.»

در ادامه حمله‌های هدفمند دو روز پیش ضیا ودان سخنگوی تصدی محافظت عامه همراه با دو همکارش در اثر یک حمله انفجاری کشته شد.

در دو ماه گذشته برعلاوه الیاس داعی خبرنگار رادیو آزادی در هلمند شماری از خبرنگاران، فعالان مدنی، کارشناسان سیاسی و دیگر شخصیت‌های شناخته شده در چنین حمله‌ها کشته شده‌اند.

ذبیح‌الله مجاهد سخنگوی طالبان دخالت این گروه در حمله‌های هدفمند را رد کرده است.

وی در تویتر خود قوای افغان را مسول حمله‌های مرگبار در ولایت‌ها دانسته و در عین حال مسولیت حمله بر شماری نیروهای افغان را پذیرفته است.

## نړۍ



په یمن کې د کړکیچ په دوام؛

## امریکا: ډېر ژر به د یمن حوثیان د ترهګرو په تور لېست کې شامل کړو

۳

## راپورونه: د بېلاروس د اپوزېسیون مشرې د کړکېچ د پای ته رسېدو لپاره د لوکاشینکا وړاندیز رد کړی



په بېلاروس کې د ولسمشریزو ټاکنو وروسته د سیاسي اختلافاتو په دوام، د اپوزېسیون مشرې د الکساندر لوکاشینکا تازه وړاندیز رد کړی دی.

لوکاشینکا ژمنه کړې، چې د روان میلادي کال تر پایه به د نوي اساسي قانون مسوده ترتیب او ټول‌پوښتنې ته به یې وړاندې کړي.

خو د اپوزېسیون مشرې سویتلانا تیخانوفسکایا ویلي، په بېلاروس کې یوازې یو نوی اساسي قانون تصویبېدای شي، چې هغه د خلکو اساسي قانون دی.

د هغې په خبره، دا خلک دي چې د دې قانون مسوده به لیکي او ورباندې بحث به کوي. د اپوزېسیون مشرې لوکاشینکا ته په اشاره ویلي، هغه سړی چې د بېلاروس له وګړو وېرېږي، د هېواد له عمده قوانینو سره کوم سروکار نه‌لري.

تیخانوفسکایا ویلي، لوکاشینکا خپلې تېر ایستونکې پروژې ته دوام ورکړی او هڅه کوي زیات وخت ګوټو ته ورشي، خو د هغې په خبره، نور د بېلاروس وګړي ورباندې باور نه کوي.

وروسته له هغې چې الکساندر لوکاشینکا د تېر کال د اګسټ میاشتې د نهمې د ولسمشرۍ په ټاکنو کې خپله بریا اعلان کړه، په بېلاروس کې له هغې راهیسې پراخ لاریونونه روان دي.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې نږدې ۹۱ میلیونو ته رسېدلې

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۹۰ میلیونه او ۷۸۰ زره او ۱۸۹ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۹۴۴ زره او ۸۸۰ کسان مړه شوي او نږدې ٦٥ میلیونه ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۲ میلیونه او ۹۱۷ زره او ٦۴۷ ته رسېدلي او ۳۸۳ زره او ۲۸۱ نور امریکایان ترې مړه شوي دي. دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ۴٦۷ زره او ۴۳۱ میلیونه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د اته میلیونه او ۱۰۵ زره او ۷۹۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د درې میلیونه او ۴۲۵ زره او ۲٦۹ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېټانیا د درې میلیونه او ۷۲ زره او ۳۴۹ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي.

فرانسه، ترکیه، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.


## ژونـــد

## ریالمي خپل د ۲۰۲۱ کال لومړی موبایل معرفي کړ



ریالمي کمپنۍ خپل وي۱۵ نومی ځیرک موبایل معرفي کړ، چې دغه ځیرک موبایل له ۵جي ټکنالوژۍ څخه د ملاتړ وړتیا هم لري. دغه ځیرک موبایل په چین کې د یوې غونډې له لارې کاروونکو ته معرفي شو. ریالمي وي۱۵ کې ٦,۴ انچه فول اېچ ډي پلس امولېډ ډوله مخ‌پاڼه ورکړل شوې او د ګوتې نښې سېنسر د مخ‌پاڼې لاندې ځای پر ځای شوی دی. دغه ځیرک موبایل کې ډېمنېسټي۸۰۰ یو ډوله پروسېسر کارول شوی او ٦ – ۸ ګېګابایټ رم او ۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لري. شاتنۍ برخه کې درې کامرې لري چې ٦۴ مېګاپکسله اصلي کامره، ۸ مېګاپکسله الټراوایډ اېنګل او ۲ مېګاپکسله مکرو کامرې پکې شاملې دي. د دغه ځیرک موبایل ٦ ګېګابایټ رم او ۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼې بیه ۱۴۹۹ چینایي یوان (تقریباً ۱۸۰۰۰ افغانۍ) او د ۸ ګېګابایټ رم او ۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼې بیه ۱۹۹۹ چینایي یوان (تقریباً ۲۴۰۰۰ افغانۍ) ټاکل شوې ده. ریالمي وي۱۵ به د جنوري په ۱۴مه رسماً خرڅلاو ته وړاندې شي.

## هره بریا؛ لویې ستونزې ته د ننوتو بیلېټ اخیستل دي




موږ ډېری، ډېر وختي د بریا د لارې پر سر ولاړ یو، لږ ماتې خورو او د لا ښه والي لپاره ښه انګېزه لرو. خو له دې هرڅه مخکې موږ پر ځان باور پیدا کړی او پر مټ یې ډېرو بریاوو ته رسېدلي یو. زموږ کړه وړه ډېر ارزښت لري، که هغه ته په ارزښت قایل نه شو، هېڅکله به بدلون او نوښت ته زړه ښه نه کړو.

بریا ته د رسېدو یوه بده پایله دا ده، چې انسان مغرور کوي. ځینې کسان دا باور لري، چې بریالي دي او په کافي اندازه پوهه او علم لري، هغه دي چې نور له پرمختګ کولو لاس اخلي او کرار پر خپل ځای کېني. هغوی پرمختګ او نوښت په یو فورمول معامله کوي. هغه فورمول چې هر ځل یې تکراروي. هغوی وایي: «بریا، بریا ده او دا لکه د نورو زده کړو په څېر د سیالۍ کوم میدان نه لري». خو تېروتنه کوي. هغه مهارتونه چې تاسې یو ځل په لاس راوړی، له هغه سره چې بل ځل به یې لاسته راوړی، ډېر توپیر لري.




د زده کونکو/زده کړیالانو جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالۍ ګڼل کېږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړیالانو ته د وړیا ای تي ام کارت او په کلنۍ فیس کې د ماستر ډېبټ کارت تخفیف سره چمتو شوی دی.

www.azizibank.af
1515
عزیزي بانک
Azizi Bank